چی بیلتون دربانديٍ وانه ړوی شپه -- څورلسمه به دې نه شی میلمنه

دا ښا مار د کوم پالنګ خواته ولاړ دی -- پیره دار د سپیني خولی په خزانه

کتابونو ته زور ورکه ملا عباسه[۱] – چی تالا شوه د خالونو مدرسه

تا وې زه فنا فی العلم یم تکړه یم – لکه تا لیدلي نه وه ګلبشره

تا ځوانی له لاسه ورکړه په دی غم کی – چی ضمه وه که فتحه وه که کسره

ځان دې ډوب که په الفاظو په حاشو کی – درنه لاړه د ژوندو محاوره

تا له کوره زیارت جوړ که شا عالمه[۲] – د ارواح سره اوس کینه په حجره

ته د کوم کمر کوتره وی نا ځوانه -- داسې ناسته د شملو په مناره

دې اوښانو خو ستا کډې لیږدولې – دا اوښان چی تا شلولي په داړه

دا ګنډونه چا اوبدلي خپل لمسي ته – دې منګي کی چا پټ کړې تمانچه؟

دې ریبار چا ته راوړي احوالونه – چی پر لاره یی لمده شوله مصرع

دا ملیار د کوم ګلاب تر څنګ ولاړ ؤ – اوس پریوتی د اغزو سره اخته

ته د کوم قلم خاوند وی بن هنده -- په شرابو کی دی ډوب که طرفه[۳]

ته د کوم پښتون بچی یی داسې غورځې -- د با با عبدالرحمان په هدیره

تا په عمر کی ادیب چیرته لیدلی – بینوا الفت سیلاب اجمل حمزه

لنډۍ ولې داستان ولې نظم ولې— ستونی ولی چی نیمګړې شي ناره

چنار ولی نارنج ولی غاټول ولی – نرګس ولی د شرابو په پلمه

ځلمی زوی دې په په دوکو کیږدۍ ته راوست-- اوس ویشتل کړې سلیمانه خلیفه[٤]

دود دا نه ؤ چی کشران دې سرداران شی – مشر واخلی له خپل کشره قومانده

چی د چا د کا کا زوی به لیونی شو– کوم هو ښیار به ورته وکړه فیصله

«لیونی لره به څه کړی نور تد بیر»[٥] – لیونی سره څوک نه کا مشوره

چا وی ته زما د ږیری مستوفی شه -- چی می لنډه غوڅه کړې که اوږده

---

[۱] د طالب جان او ګل بشری نکل

[۲] د میمونی میره چی میمونه یی په بیځایه بدګومانی مړه کړه

[۳] د بحرین په سیمه کی یو پخوانی شاعر چی د هغه ځای د باچا هجو یی ولیکله او په اعدام محکوم شو. دده خپله خوښه دا وه چی تر ستونی پورې له شرابو ډک شی او بیا یی د وینی د استلو له لارې مړ کی چه همداسی وشوه.

[٤] عثمانی سلطان چی خپل د زوی د وژلو امر یی ورکه او د قتل په مهال پخپله دی د پردې تر شا ولاړ ؤ.

[٥] د خوشحال خان د یو غزل څخه: لیونی لره به څه کړی نو تدبیر – لیونی لره زندان بویه ځنځیر

چی می کرښه ده پری ایښې که ګردۍ – چی ببره ده وتلې که کوسه

چی می تکه سره رنګ کړې په نکریزو -- که می ښکلې توره کړې په وسمه

چی خولی مې په سر کړې که لنګۍ – چی تاو کړې می شړۍ که دوپټه

چی شپیلۍ را باندې ښه لګي که ډول – په رباب می زړه ټکور شی که باجه

چی هندی خواړه می خوښ دی که ترکی – چی پیاله کی می شنه چای دی که قهوه

ولی ته زما د ختې چوکی دار یی – چی پښتون یم که دیګان[٦] که هزاره

زه پښتون یم خو همزولی می وزبک دی -- زه پښتون یم خو تاجک سره دیره

اوس چی لوی لوی ملتونه سره یو شول-- څه مانا لری د خلکو قبیله؟

ښه پیلوټ خو ښه پیلوټ وی چی لایق وی – که هندو وی که سنی وی که شیعه

چی ناروغ یی ښه تشخیص که ښه ډاکتر دی – که پښتو یی کړکچو وی که سوچه

جی د ښځو حقوق غواړی ښه وزیر دی -- فرق یی څه وي نارینه که ښځینه

چی په ځان باندې حاکم دی ښه قاضی دی – که عجم دی که سید دی که خوجه

مال چی هر چیرته پیدا شی غله پیدا شی – ښاروالان دې کړي د ښار محافظه

هره سیمه کی دوه درې تنه ټګمار وی – په هر کلي کی دوه درې کسه کچه

نن سبا کی به سل نور ورسره غله شی -- دا خونی غل که څوک نکړی غرغړه

تا به ولی ګرمومه ته ګرم نه یی – ګرم خو زه یم چی می ستا وکړه پرده

ګرم خو زه یم چی د تره زوی می وکیل کړ—— کله ما ته کله ځانته واسطه

اخبارو کی می خپاره کړل تنقیدونه – بیا ملنګ شوم دروازه په دروازه

ګرم خو زه یم چی ما ما می صوبه دار کړ – نه تدبیر نه کفایت نه تجربه

سترګو رپ کی شا او خوا تری غله چا پیر شول – سترګو رپ کی ترینه لاړه اداره

توره یی پڅه جیب یی تش نظریی لنډ ؤ – په ګوډ آس روان سوکه سوکه

چی به تا کومه پوښتنه ورنه ورکړه – غوړه ژبه یی هرې خواته ښویده

وس می نشته وکیلان را سره وران دی —— سم روغبړ راسره نکوی میلمه

چی د پریکړی وخت نزدې شي – کمسیون – چی عمل ته ضرورت شو -- کمیټه

هو په دی کی ښه ماهر ؤ چي خوندي کړي – د پردې تر شا سیاسی معامله

زه په هغه پښتون ویاړم چی فاتح شو – خو کورو ته یی را نه وسته جګړه[٧]

---

[٦٦] دیګان د دهقان یو بیل تلفظ دی او د افغان سره په مقایسه اسعمالیږي

باچاهان د حرمونو خاوندان وو – دی باچا شو یو میره یوه مینه

کوم بد ماش که  می له خپله کوره باسی   -- بیا به زه هم ځان فاتح کم دوباره

په دې دشتو کی خو زما نیکونه ښخ دي – له دې غرو می دې څوک نکړی بیګانه

خو که چاره د ورورئ د ملګرتوب وی – نه به ګرځم ګردنی می په سینه

-- --

سر دې ایښی په ډبرو مړاوې څانګې – چا اوبه درته راوړي دي که نه

په پسرلی کی ته خزان وهلی ښکاري – هر ه پاڼه دی نکریزو باندې سره

نن د کومې میمونې په تهمت رنګ ده -- له آمو نه تر اټکه سحرګه

چی د تورو بدل ورکا په نکریزو --   پیغله هله شی رښتینه پښتنه

خدای ته ګوره آدم خانه خوشباوره – مه غولیږه د ماما په دسیسه

میروګې غوندې دی یار دی یوسف زیه – کړه نسکوره دا بی غوره زمانه

دی داستان کې ته نا کام یی دا بدل که – را ستنه کړه د ډولو سره  جرګه

دی کیسوکی د مین نصیب غمجن دی --  سرشته کړه بریالۍ شان ته کیسه

ولی  داسی مذبذب یی جاله وانه --  مین پورې غاړه ویسه په جاله

پورې غاړه د منګی آواز اوچت دی – پیغلې اورې د ځلمو مشاعره

سرود ساته چلم پریږده آدم خانه – دې جوشې مزاج ته راوړه حوصله

تماشې ته دې ولاړه درخانۍ ده – میلمه پاله ، ژبه وره ، خانزاده

اوس به زانګی دا د زلفو تناوونه – خپروې به د ټالونو انګازه

دا خیالي لمسۍ به امن کی لوییږي --  د منګي لاندې چی ځی میده میده[۸]

ناوې ته چی په درشل قدم کی نږدې – څوک به وشیندي ښایست په دې بانډه

ستا اشنا له سینده نه دی را اوویښتی – ګل بشرې ، ته پیغورونه ورکوه

شاه عالم چی ټس و ټوس کړي د میړانې – په کټ کټ ور باندې خاندي میمونه

آخري مصرع دی دا وي ورونړو خویندو – رب دې تیره کړي دا ټکنده غرمه

---

[۷] اشاره ده شاه محمود هوتک ته چی د اصفهان د محاصری په آخر کی یی د شاه حسین صفوی د تسلیمیدو وروسته ټولوخلکو ته د خوراکی توکو د راوړلو شرایط برابر کړل او د باچا زیاتره وزیران یی په خپلو منصبونو کی پریښودل.  خو شا محمود پس له دری کالو لیونی شو او د خپل کاکا زوی اشرف او د خپل صدر اعظم له خوا ووژل شو. شاه محمود د شاه حسین د لور سره واده وکړ او هغی ته وفا دار پاتی شو.
[۸] لنډۍ: زه به ترې څنګه نه جاریږم – چی شنه منګی لاندې میده میده راځینه